## ابتدائي تحقيق

د مظنون په اړه د څارنوالۍ له خوا د راټولو شوو دلايلو مناقشه ده. دری:[تحقیق ابتدایی]

## ابتدائي حکم

هغه حکم چې د نزاع وړ موضوع کې د با صلاحيته محکمې له خوا صادر شوی وي. دری: [حکم ابتدایی]

## ابتدائي يا اصلي دعوی

هغه دعوی ده چې د ادعا په لومړني پړاو او د ادعا د وړاندې کولو په وخت کې د مدعي له خوا وړاندې کيږي. دری: [دعوی ابتدائی یا اصلی]

## ابتدائيه محکمه

لومړنۍ محکمه ده چې د ښار او يا ولسوالۍ په کچه د قانون له حکمونو سره سمه جوړيږي.

دری: [محکمۀ ابتدائی]

## ابتدائيه محکمه

هغه قانوني مرجع چې قضيې په لومړني پړاو کې د ډول او ماهيت له لحاظه تر څېړنې او انفصال لاندې نيسي.

دری: [محکمه ابتدائیه]

## ابتکار

په يو شي کې نوی نوښت او يا هم د يو بې ساري مثبت او مفيد عمل سرته رسول دي. دری:[ابتکار]

## ابد حبس

په زندان کې د عمر تر پای پورې د با صلاحيته محکمې د حکم په اساس د محکوم له ساتنې څخه عبارت دی.

دری:[حبس ابد]

## ابدال

د ځای پرځای کولو او بدل په نامه د بل مال پرځای د يوه مال ايښودل دي. دری: [ابدال]

## ابراء

که چېرې داين د خپل ټول او يا يوې برخې حق او غوښتنې څخه چې پر مديون باندې يې لري، تېر شي ابراء ده. دری:[ابرا]

## ابراء ليك

له هغه سند څخه عبارت دی چې پور ورکوونکی له خپل ټول حق څخه د پوروړي په وړاندې تېرېږي او د حق د پای ته رسېدو سبب ګرځي. دری:[ابرأ خط]

## ابرام

د استيناف د محکمې په واسطه د ابتدائيه محکمې د حکم تائيد يا د سترې محکمې په واسطه د استيناف د محکمې دحکم تأييد. دری: [ابرام]

## ابضاع

هغه عامل شخص دی چې يوه اندازه شتمني يې د سوداګرۍ د فعاليتونو په منظور بل چاته ورکړی وي او ټولې ګټې يې پر هغه اړه ولري. دری:[ابضاع]

## ابلاغ پاڼه

رسمي پاڼه چې د هغې په واسطه اړوندو اشخاصوته د محکمې او يا صلاحيت لرونکي مرجع د صادر شوي حکم څخه رسماً خبر ورکوي. دری: [ابلاغ نامه]

## ابلاغيه

هغه پيغام دی چې د عامه يا د يوې ځانګړې طبقې او يا د دوی يو يا څو تنو افرادو ته د ټوليزو اطلاعاتو له مخې خپريږي. دری: [ابلاغیه]

## اتباع

په هغو ټولو حقيقي او حکمي اشخاصو اطلاق کيږي چې د يو هېواد په نفوسو کښې شامل وي پـدې شـرط چې د همغه هېواد تابعيت ولري. دری:[اتباع]

## اتبياع

د مبيعې د تمليک د اصالت او نيابت په توګـه وروسـته د ايجاب د بايع له خوا د ثمن ورکول. دری: [اتبياع]

## اتفاقی عايد

هغه عايد ته ويل کيږي چې پـه غيـر دوامـداره توګـه پـه اتفـاقي ډول تـر لاسـه شـوی وي. (عايـد تـه دې مراجعـه وشي) دری:[عايد اتفاقی]

## اتلاف

د منقولو او غير منقولو شيانو له منځه وړلو څخـه عبـارت دی چې په بل چا پورې تعلق لري په کلي صـورت سـره له قـانوني مجوز څخـه پرتـه چې پـه قصـدي توګـه ئـې صورت موندلی وي. دری:[اتلاف]

## اتهام

پر يو شخص باندې د تهمت واردول. دری: [اتهام]

## اتهامی سيستم

د جزايي اجراآتو سيستم دی چې په هغه کې مرتکب تـه د اتهام توجيه کول د مجني عليـه او يـا منصـفه هيئـت لـه خوا صورت مومي. دری: [سيستم اتهامی]

## اثبات

عبارت دی د دلايلو له وړانـدی کولـو څخـه د قضـاء پـه وړاندې په هغه طريقه چې په قانون کې ذکـر شـوی وي. دری: [اثبات]

## اجاره

هغه عقد دی چې د هغه په موجب يوه خوا د عين ګټه او يا خپـل کـاري تـوان د اجارې د اخيسـتلو پـه وړانـدې د معينی مودې لپاره معامله کوي. دری:[اجاره]

## اجاره ليك

هغه سند چې د اجـارې عقـد پکښـې ليکـل شـوی وي. (اجاره ته دې مراجعه وشي). دری:[اجاره خط]

## اجانب

بيګانـه افـراد او اشـخاص دي چـې د شـرعي او قـانوني احکامو پر بنسټ د ځينې حقونـو پـه اسـتحقاق او تملـک کې د ځينې ځانګړو محدوديتونو تابع وي.
دری: [اجانب]

## اجبار

د يوه شخص له خوا د يـو کـار انجـامول پـر بـل شـخص باندې دی پرته له دې چې هغه شخص ددې کار په انجام کې قصد او اختيار ولري. دری:[اجبار]

## اجباري (تبعي) استوګنځی

عبارت دی له هغه استوګنځي څخه چې د قانون له مخې (له خوا) ځينو اشخاصو ته د ځينو ځانګړو اړيکو له مخې چې د اشخاصو او يا د هغوی د ځانګړي شـغل پـه اعتبـار وي ټاکل کيږي. دری:[اقامتگاه اجباری]

## اجباری زنا

د زنا د فعل ارتکـاب دی پـه جبـر او اکـراه سـره پداسـې حال کې چې د ښځې اختيار سلب شوی وي. (زنا ته دې مراجعه وشي). دری:[زنای اجباری]

## اجتماعي تأمينات

د قانون په رڼا کې د خلکو لپاره ټولنيز خدمات او لازمي تسهيلات دي. درى: [تأمينات اجتماعى]

## اجتماعي حيثيت

له هغه دريځ او مؤقف څخه عبارت دی چې يو شخص يې د خپل کرکتر، پوهې، کسب، مقام او حرفې د په نظر کې نيولو سره په ټولنه کې د خلکو سره لري.
درى: [حيثيت اجتماعى]

## اجتماعی تکافل

د بيلا بيلو اجتماعي چارو لکه معيشت، تربيت او نورو د سرپرستی کول دي چې په معموله توګه د دولتونو له عمده دندو څخه شمېرل کېږي. درى: [تکافل اجتماعى]

## اجتهاد

د مجتهد زيار ايستل دي چې د شرعي حکم د لاس ته راوړلو لپاره يې د شرعي د لايلو لپاره باسي.
درى: [اجتهاد]

## اجتهادي مرور زمان (د وخت تېرېدل)

هغه مرور زمان دی چې د فقهې پوهان پرې موافقه لري.
(مرور زمان ته دې مراجعه وشي).
درى: [مرور زمان اجتهادى)]

## اجرائي ضمانت

د عامه واك مداخله چې په ټولنه کې د حقوقو او اساسي آزاديو د حمايت او د جزائي عدالت د اجراء لپاره وي.
درى :[ ضمانت اجرا

## اجرت

د يوه شي د کرايې يا ګټې له بدل څخه عبارت دی.
درى:[اجرت]

## اجنبي

هغه شخص دی چې د نسبي او يا سببي محارمو له ډلې څخه نه وي. درى:[اجنبى]

## اجنبيه

هغه ښځه چې له نسبي او يا سببي محارمو څخه نه وي.
درى: [اجنبيه]

## اجير

هغه شخص دی چې خپل قوت او توان يې په اجاره ورکړی وي. درى:[اجير]

## احاله

د خصوصي بين المللي حقوقو له نظره ديوه حقوقي امر ارجاع کول د يوه قانون د صلاحيت څخه دبل قانون تر صلاحيت لاندې. درى:[احاله]

## احتجاز

هغه حق دی چې داين کولی شي چې د واکمنې محکمې د حکم پر بنسټ د مديون يوه برخه مال د دين د ادا کولو پورې له خپل ځان سره وساتي.
درى:[احتجاز]

## احتکار

د بيعو د لوړتيا په موخه د خوراکي توکو پټول دي.
درى:[احتکار]

## احتلام

د مني له راوتلو څخه عبارت دی چې د جنسي غير ارادي تخيلاتو يا جنسي غير ارادي حرکتونو له امله په خوب کې صورت مومي. درى:[احتلام]

## احتمالي قصد

هغه قصد دی چې فاعل موخه پیشبیني کړی وی اما د هغې نتیجه نه غواړی. دری:[قصد احتمالی]

## احتیاطي تدابیر

هغه تدابیر دي چې د قانون د حراست ارګانونه یې د محکمې د حکم تر صدور مخکې نیسي.
دری:[ تدابیر احتیاطی]

## احتیاطي حبس

هغه شخص چې د جنایت، یا هغه جنحې چې جزایې متوسط حبس وي جرم مرتکب شوی وي او یا دایمي د استوګنې ځای ونلري، دغه حبس د ابتدائي تحقیق تر مرحلې پورې په بر کې نیسي. دری: [حبس احتیاطی]

## احتیاطي حجز

د یو مال او شتمنۍ او یا هم د یو عقد او یا تصرف د سرته رسولو په اړه د یو شخص د ممانعت راوړلو څخه عبارت دی چې د نورو د حقوقو او منافعو د حمایت په خاطر په احتیاطي توګه صورت نیسي.
دری: [حجز احتیاطی]

## احتیاطی تدابیر (سوداګریز)

هغه حالت چې د دعوې د یوه خوا د غوښتنې پر بنسټ د دعوې له اقامې وړاندې یا وروسته هر ډول تدابیر چې متنازع فیه شی د ساتلو لپاره لازم وي، قرار صادرېږي.
دری:[ تدابیر احتیاطی (تجارتی)]

## احتیاطی دلیل

هغه دلیل چې مدعي د دلیل د نه درلودو په صورت کی پرې متوسل شي. دری: [دلیل احتیاطی]

## احتیال

د مکر او حیلې په واسطه د بل چا د مال غلا او ترلاسه کول دي چې نن یې د کلاهبرداری په نامه هم یادوي.
دری:[احتیال]

## احسن طلاق

هغه طلاق دی چې ښځې ته د طهر په موده کې ورکړل شي او د طهر د مودې تر پای ته رسېدو پورې له هغې سره جماع نه وي شوی. دری:[طلاق احسن]

## احضار

د محکمې له خوا د لازمو توضیحاتو د وړاندې کولو لپاره د شخص یا اشخاصو راغوښتل دي. دری:[احضار]

## احضار لیك

ځانګړې پاڼه ده چې د محکمې له خوا شکمن، تورن او یا شاهدانو ته د خطاب په توګه د محکمې یا جنایي محقق په وړاندې د حضور موندلو په موخه د وخت او ځای په قید سره صادرېږي. دری:[احضار نامه]

## احلاد

د ښځې له خوا د عدت په موده کی د آرایش نه کول.
دری: [احلاد]

## اختراع

د یوه نوي صنعتي محصول د موجودو وسایلو په نوي بڼه رامنځ ته کول د یوې نتیجې (پایلې) او یا د یوه کرنیز یا صنعتي محصول رامنځ ته کولو ته وایي. دری: [اختراع]

## اختصار (لنډیز)

د مفصل اثر د لنډولو په معنی د هغه اثر د بحث د موضوع د کلیت له ساتلو سره. دری:[اختصار اثر]

## اختصاص
د قاضي مستقيم صلاحيت چې د دعوې په څېړنې کې د هغه څه چې قانون ئې وړانديز کړی وي.
درى: [اختصاص]

## اختصاصي محکمې
هغه محاکم دي چې د قانون له حکمونو سره سم د هغو خاصو قضاياوو د رسيدگی په موخه چې قانون يې وړانديز کړی وي، مينځ ته راځي.
درى:[محاکم اختصاصى]

## اختصاصی قانون
کوم قانون چې د مشخصو مسايلو او چارو لپاره وضع شوی وي او د افرادو د حرفې، شغل او اجتماعي موقعيت په نظر کې نيولو سره د حقوقو يوه مشخصه ساحه احتواء کوي.
درى: [قانون اختصاصى]

## اختطاف
له ګواښ يا له قوې (زور) څخه په ګټې اخستنې يا د وېره ونو په نورو ډولونو يا په چل او تېر ايستنې سره يا له جسمي يا رواني کم زورتيا څخه په ګټې اخستنې يا د نوي زېږيدلي طفل سره د بل ماشوم بدلول.
درى:[اختطاف]

## اختلاس
د دولت يا د افرادو د مالونو پېسول او وړل دي د عامه خدمتونو د هغه موظف له خوا چې د وظيفې له حيثه هغه ته سپارل شوي وي.
درى: [اختلاس]

## اختناق
د نسجونو محروموول دي د کافی اندازې اوکسيجن څخه چې د ژوندانه د دوام لپاره ضروري وي. درى: [اختناق]

## اختيار
په عقدونو او تصرفاتو کې د رد، قبلولو او تړاکنو کې د شخص د قول او فعل د څرګندونو د صلاحيت درلودلو ته ويل کېږي.
درى: [اختيار]

## اختياري مجرايي
هغه مجرايي ده چې د دواړو خواوو په خوښه ترسره کېږي.
درى: [مجرايی اختيارى]

## اختياري استوګنځی
له هغه استوګنځي څخه عبارت دی چې د کامل اهليت لرونکی شخص يې په خپله اراده او خوښه وټاکي. او کولای شي د يو ټاکلي قانوني عمل ترسره کولو لپاره د قانون له حکمونو سره سم له هغه نه کار واخلي.
درى:[اقامتګاه اختيارى]

## اختياري شرکت
هغه شرکت دی چې د معاملې د دواړو خواوو د آزاد او کامل اختيار پر اساس عقد او رامنځ ته کېږي.
درى: [شرکت اختيارى]

## اختياري وصي
هغه څوک دی چې شخص د خپل ژوند په حال کې هغه د خپل ناقص او يا فاقد اهليت اولادونو په شمول له هغه حمل څخه چې د زوجې په نس کې ثابت وي د پالنې لپاره تعيين کړی وي.
درى: [وصی اختيارى]

## اختياري وصيت
له واجبه وصيت سره برعکس هغه وصيت دی چې رعايت، مقدارېې چې وصيت يې پری کړی دی د موصي په واک او اختيار کې وي.
درى: [وصيت اختيارى]

## اختیاری بی طرفي

هغې بې طرفۍ ته ویل کیږي چې د هغې له مخې یو دولت د نورو دولتو ترمنځ جګړې ته د ننوتو او د هغه بر عکس حالت کې مخیر وي. دری:[ بی طرفی اختیاری]

## اخص ولایت

هغه ولایت دی چې د ابویت، ملکیت او وصیت په چارو کې ترسره کیږي. دری: [ولایت اخص]

## اخطار

په هره ممکنه وسیله لفظي وي یا معنوي تهدید بلل کیږي چې د مطلوب شخص عادي حالت ته تغییر ورکړي او پایله یې د قانون خلاف عمل اجراء وي. دری:[اخطار]

## اخلاق

د ښو او بدو د توپیر معیار دی. دری:[اخلاق]

## اخلاقي انحراف

هغه عمل چې د ټولنیزو اخلاقو او آدابو مخالف وي.
دری:[انحراف اخلاقی]

## اخلاقي فساد

هغه اعمال دي چې موخه یې د خلکو د اخلاقي مواصفاتو بې لارې کول وي چې د ټولنې د تعامل او دود له مخې هم منل شوي وي. دری:[فساد اخلاقی]

## اخلاقي مجازات

هغه ډول کرکه، بې پروایي او بې میلي چې د ټولنې افرادو د یوه یا څو تنو ټاکلیو اشخاصو په وړاندې ښودلی او په پایله کې یې یو ډول اخلاقي مویده پر شخص باندې تطبیقیږي. دری: [ مجازات اخلاقی]

## اخلاقي مسوولیت

هغه مسوولیت دی چې پر اخلاقي اصولو ولاړوي.
دری: [مسوولیت اخلاقی]

## اخلاقي معایدات

هغه کرکه، بی پروایي او بې میلي ده، چې د ټولنې افراد یې د یو یا څو کسانو په نسبت څرګندوي او په پایله کې په یو شخص باندې یو ډول اخلاقي مویده تطبیق کوي.
دری: [ معایدات اخلاقی]

## اخیافي خور

هغه خور ده چې شخص ته د مور له لوري منسوبیږي.
دری:[خواهر اخیافی]

## اخیستونکی

هغه حقوقي یا حقیقي شخص دی چې د قرارداد له مخې کالي (مال التجاره) لاس ته راوړي، او د هغو د بیې ورکولو تعهد لري. دری:[خریدار]

## اداره

د روانو چارو له مخ ته بیولو څخه عبارت ده چې د یو حقیقي او یا حکمي شخص له خوا صورت ونیسي.
دری: [ادارہ]

## اداري اسناد

هغه اسناد دي چې د دولت د رسمي ادارو په وسیله ترتیب شوي وي. دری: [اسناد اداری]

## اداري تفتیش

هغه تفتیش چې د هغې یواځنۍ موخه اداره او وقایه وي.
دری: [تفتیش اداری]

## اداري حقوق

هغه قواعد دي چې په دولتي ادارو او سازمانونو حاکم وي او د افرادو او د دولتي ادارو ترمنځ روابط تنظیموي.
دری:[حقوق اداری]

## اداري فساد

د قانون خلاف عمل دی چې د دولتي کار کوونکو او عامه خدمتونو د مؤظفینو له خوا د شخص یا ډله ییز منفعت د حاصلولو په مقصد ئې صورت مونډلی وي.
دری:[فساد اداری]

## ادانت

د متهم محکوم کېدلو ته وائي چې د با صلاحیته محکمې په حکم سره وي. دری: [ادانت]

## ادله

د اثبات وسایل،چې په عدلي او قضایي مراجعو کې د یو شي د اثبات لپاره هغې ته اعتبار ورکول کیږي او د حکم سبب پیژندل کیږي. دری: [ادله]

## اذن په حیازت

د قضائي قرار د صادرېدو څخه عبارت دی چې د هغې له مخې شخص اجازه مومي چې د مال یوه برخه یا ټوله برخه په خپل حیازت کې ولري. دری: [اذن به حیازت]

## اذن په قاصر

هغه اجازه ده چې د هغې پر اساس قاصر د ولي د سلطې څخه ووځي او د هغه تصرفات قانوني اړخ ومومي.
دری: [اذن به قاصر]

## اذن ورکوونکی (اجازه ورکوونکی)

هغه شخص دی چې د اذن یا اجازې صادرولو صلاحیت د قانون له حکمونو سره سم ولري
دری:[اذن دهنده (اجازه دهنده)]

## اذیت

هغه عامه اصطلاح ده چې یوه فرد ته د هر ډول مادي، معنوي، حقوقي او یا اخلاقي ضرر د رسولو لپاره استعمالیږي. دری: [اذیت]

## اراده

د یوه ټاکلی کار په اړوند د تصور او د هغه د ګټې تر تصدیق وروسته، د هغه په لوري د نفس حرکت دی.
دری:[اراده]

## ارتداد

له خپل دین نه د یو مسلمان تېرېدل او یا بی دین کیدل.
دری:[ارتداد]

## ارتسامي عقد (تړون)

هغه تړون دی چې له رسمي شکلیاتو سره تړل کېږي.
دری: [عقد ارتسامی]

## ارتفاق

په عقار باندې داسې حق دی چې د بل شخص د عقار د ګټې لپاره وي. دری: [ارتفاق]

## ارتکاب

د هغه عمل ترسره کول دي چې د قانون خلاف وي او په قانون کې ورته جزاء ټاکل شوی وي. دری: [ارتکاب]

## ارتهان

د منقول او غیر منقول مالونو ګروول دی. دری: [ارتهان]

## ارتیاح

د یو حقوقي عمل د سرته رسولو په منظور د یو شخص رضایت دی. دری:[ارتیاح]

## ارث

ارث او میراث هغه حق دی چې د شریعت او قانون له مخې د متوفی (مړی) له خوا مستحقو وارثینو یا وارث ته لیږدول کیږي. دری: [ارث]

## ارز

د ټولو کورنیو او بهرنیو پیسو ډولونو ته ویل کېږي.
دری: [ارز]

## ارش

هغه مالی مقدار مال چې د اصلي دیت له اندازې څخه لږ وي. دری: [ارش]

## ارضي تجاوز

د یوه دولت د مسلحو قواوو له تخطی او تیری څخه عبارت دی چې د بل دولت پر حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا باندې ئې صورت موندلی وي.
دری: [ تجاوز ارضی]

## ارضی حقوق

هغه قواعد دي چې د ارضي مناسباتو د تنظیم او تامین لپاره پدې موخه چې له ځمکې څخه معقوله ګټه واخیستل شي، تنظیموي. دری:[حقوق ارضی]

## ارعاب (ډار)

پر ترس او ډار او وحشت اچولو باندې اطلاق کېږي.
دری:[ارعاب]

## ارعابي مجازات

هغه مجازات چې موخه یې د احتمالي مجرمینو په ذهن کې د رعب او ویرې د ایجاد له لارې د جرم د وقوع مخنیوی دی. دری: [مجازات ارعابی]

## اړوند جرمونه

هغه جرمونه دي چې په یو وخت کې ئې د متعددو افعالو د یوه واحد مقصد په منظور ارتکاب موندلی وي.
دری:[جرایم مرتبط]

## ازدواج

هغه عقد دی چې د نر او ښځې ګډ ژوند د کورنۍ د جوړولو لپاره، د شریعت او قانون په چوکاټ کې حلال ګرځوي او دواړو خواوو ته حقوق او وجیبې را منځته کوي. دری: [ازدواج]

## اساسنامه

عبارت له هغه سند څخه دی چې د حکمي شخصیتونو لکه ګوند، ټولنې، بنیاد، جوړښت، شرکت یا نورو مشابه تأسیساتو تشکیلاتو، موخې او د فعالیت څرنګوالی په هغه کې لیکل شوی وي او په واقعیت کې د دې ډول جوړښتونو فعالیت ته مشروعیت وربخښي.
دری: [اساسنامه]

## اساسي حمایت

د متهم د حقوقو ساتنه ده چې د اساسي قانون له احکامو سره سم تنظیمیږي. دری: [حمایت اساسی]

## اساسي قانون

کلي او عام قواعد چې د ملت ارادې تمثیل کړي او د ملت د استازو لخوا په لویه جرګه کې تصویب او د هېواد د لومړي شخص له لوري منظور شوی وي.
دری:[قانون اساسی]

## اساسی (بنسټیز) حق

هغه حق چې د بشر د ټولو افرادو تر منځ مشترک وي او غالباً د اساسي قوانینو په واسطه حمایه کیږي.
دری: [حق اساسی (بنیادی)]

## استبدال
د یو شي بدلول له بل سره دی چې د یو عیب او یا کوم یو بل علت پر اساس وي. دری: [استبدال]

## استثمار
د یو شی او یا شخص څخه د مادي او یا معنوي ګټې لاس ته راوړلو ته وایي. دری:[استثمار]

## استجار
د یوه شي په اجاره اخیستل دی. (اجارې ته دې مراجعه وشي). دری: [ استجار]

## استجواب
د تحقیق په مراحلو کې له متهم سره د وارده اتهام په نسبت پر تفصیلي دلایلو او را ټولو شوو ادله مناقشه ده.
دری: [استجواب]

## استحاله
د یو شي په ماهیت کې بدلون ته وایې چې بیرته د لومړني حالت د اعادې وړنه وي. دری: [ استحاله]

## استحباب
هغه حق دی چې په موجب یې ولي د خپل مولي علیه په تزویج کې د هغه د رضائیت د ترلاسه کولو وروسته د واده د عقد د انعقاد د واک خاوند کیږي. (ولایت ته دې مراجعه وشي). دری: [استحباب]

## استحسان
د فقهې د اصولو له دلایلو څخه دی چې د هغې پربنسټ ځینې چارې چې د قیاس سره په مخالفت کې وي جواز پیدا کوي. دری:[استحسان]

## استحصاب
اوسنی بقاء پر پخواني حال باندې. دری:[استحصاب]

## استحصاب الحال
د یو متحقق امر په بنأ کې حکم کولو ته ویل کیږي پدې شرط چې د هغه نشتوالی ثابت نه شي.
دری:[استحصاب الحال]

## استحطاط
له بایع څخه د مبیعې د بیې د کموالي په باب د مشتري غوښتنه ده چې وروسته د بیعې د عقد له انعقاد څخه وي.
دری:[استحطاط]

## استحقاق
د یو حق غوښتنې او یا هم له یو محل څخه د یو معین سهم لاس ته راوړلو ته استحقاق ویل کیږي.
دری: [استحقاق]

## استحلاف
د طرفینو د دعوی د یمین مطالبه ده چې له محکمی څخه د قانون له حکمونو سره سم صورت نیسي.
دری: [استحلاف]

## استخلاف
د یوه شخص ټاکل د بل شخص په عوض د یو مسوولیت، وجیبې او یا د پخواني شخص له حقوقو څخه د مستفید کېدو لپاره. دری: [استخلاف]

## استدعا
د قضائي غوښتنې لومړنی پړاو دی چې د حقوقي عریضې په وړاندې کولو سره پیل کیږي. دری: [استدعا]

## استدلال
د قضاء په وړاندې د دعوې د اثبات لپاره د دلیل اقامه کول دي. (اثبات ته دې مراجعه وشي). دری: [استدلال]

## استرانگولاسیون

د یوه شخص د غاړې تړل او پیچل د طناب په واسطه، او د هغه کشول د لاس په واسطه د زندی کولو په خاطر.
دری: [استرانگولاسیون]

## استرداد

د عدلي تعقیب په منظور د مظنون یا تورن د تسلیمولو غوښتنه یا د محکوم بها جزا د تطبیق لپاره پر حبس باندې د محکوم شوی د تسلیمولو غوښتنه ده چې یو دولت له بل دولت څخه د پخوانی موافقتنامې پراساس چې په دې اړوند عقد شوی وي، صورت نیسي. دری:[استرداد]

## استصناع

هغه مقاوله او تعهد دی چې د قانون له احکامو سره سم له کسبگرو او یا پیشه ورانو سره د یو شي د جوړولو په منظور شوی وي. دری:[استصناع]

## استظهاري یمین

هغه قسم دی چې محکمه یې په خاصو مواردو کې د دعوی یو طرف ته راجع کوي. دری: [یمین استظهاری]

## استعاره

د عاریت اخیستونکی په واسطه د عاریت ترلاسه کول دي. دری:[استعاره]

## استعفاء

هغه حالت دی چې کارکوونکی د قانون د حکم یا ټاکلې قرارداد سره سم طوعاً له خپلې دندې څخه ځان گوښه کوي. دری [استعفاء]

## استعمال

د یو حق او یا یو شي کارولو ته ویل کېږي.
دری: [استعمال]

## استعمالي شیان

هغه شیان دي چې د پرله پسې گټې اخیستنې سره یې بیا هم عین پاتې کېږي. دری: [اشیای استعمالی]

## استفاضه

د یو خبر شایع کېدل (خپرېدل) دي تر هغه حده پورې چې د ظن او گمان موجب وگرځي. دری:[استفاضه]

## استقراء

هغه روش دی چې د کلي قاعدې د حصول په منظور وي. دری: [استقراء]

## استمداد

د معاونت کول او کومک غوښتل دی. دری: [استمداد]

## استملاك

د دولت یا اړوندو مراجعو له خوا د عادلانه تعویض په بدل کې د عامه گټو په منظور له خاوند څخه د هغه د ملکیت تصرف په جبري توگه ایستلو ته ویل کېږي.
دری:[استملاک]

## استنباطي عقد

هغه عقد چې موخه یې د هغه عقد اسقاط وي چې په عام ډول په عوض یا بې له عوض وي.
دری: [عقد اسقاطی]

## استنباطیه حقایق

هغه حقایق چې له مخې یې د یوې ادعا روغوالې او ناروغوالې استنباطیږي. دری: [حقایق استنباطیه]

## استنطاق

د څارنوال له خوا له متهم نه د پوښتنې او ځوابونو څخه عبارت دی چې د اتهام په مورد کې کېږي.
دری:[استنطاق]

## استوګنځي ته پرته له اجازې ننوتل

له قانوني اجازې او د کور د خاوند له اجازې او رضا پرته د عامه خدمتونو د موظفینو او نورو اشخاصو له خوا د بل چا استوګنځي ته ننوتل دي.

دری:[دخول غیر مجاز منزل]

## استوګنځی

عبارت له هغه ځای څخه دی چې یو شخص په عمومی توګه حقیقي او حکمي په هغه کې استوګنه کوي پرته له دې چې د استوګنې دایمي قصد په هغه ځای کېنې ولري او د هغه د چارو مرکز وي. دری: [مسکن]

## استوګنځی

له هغه مادي او حقوقي اړیکی څخه عبارت دی چې پرته د تابعیت د اړیکو په نظر کې درلودلو سره د یوه شخص رابطه د یو دولت له خاوری سره د ټراو تثبیتوی یا په بل عبارت د شخص هغه قانوني استوګنځی تشکیلوي.

دری:[اقامتګاه]

## استهلاك

د یو شي استفاده کول دي په هغه ډول چې د زوړ توب او یا له مینځه وړلو لامل یې وګرځي. دری: [استهلاک]

## استهلاکی شیان

هغه شیان چې په سمدستي او یا پر له پسې ډول استهلاک او کارول کېږي، استهلاکي شیان شمېرل کیږي. دری: [اشیای استهلاکی]

## استیناف غوښتنه

هغه ده چې محکوم علیه د ښاري، ناحیوي او ولسوالی د محکمې پر صادر شوي حکم باندې قناعت ونه کړي او خپل شکایت او اعتراض د ولایت محکمې او یا د ولسوالی محکمې ته وړاندې کړي.

دری: [استیناف خواهی]

## استیناف محکمه

هغه محکمه ده چې د ولایت په کچه د قانون له حکمونو سره سم د ځانګړو چارو په اړه جوړېږي.

دری: [محکمه استیناف]

## استیقاف

د یوه شخص د هویت د تثبیت په موخه د هغه درول دي. دری:[استیقاف]

## استیلاء

د یوه شي د لاس ته راوړنې څخه عبارت دی.

دری: [استیلاء]

## استیناف غوښتنه

له هغه حق څخه عبارت ده چې د محکوم علیه یا محکوم له له خوا د ابتدائیه محکمې پر صادر شوي حکم باندې د استیناف محکمې ته وړاندې کېږي.

دری: [استیناف طلبی]

## اسعار

هغه تجارتي او بانکي اسناد دي چې ارزښت یې په بهرنیو پیسو ټاکلي شوي وي. دری: [اسعار]

## اسعاري معاملات

د اسعاري وجوه انتقالول او پرېښودل دي له یوې مرجع څخه بلې مرجع ته. دری: [معاملات اسعاری]

## اسکان

د کورنیو یا بهرنیو راستینودونکو بیرته میشت کول یا د کوچیانو په دایمي توګه د استقرار د زمینو برابرول دي.

دری:[اسکان]

## اسلحه
له ناریه وسیلې څخه عبارت ده چې د هغې په واسطه مهمات د باروتو، ګاز او نورو احتراقی موادو په اثر د مختلفو مقصدونو لپاره استعمالیږي. دری:[اسلحه]

## اسیر
هغه شخص دی چې د دښمنانو منګولو ته لوېدلی وي.
دری:[اسیر]

## اشارة النص
هغه دی چې له لفظ څخه ثابت شي او خپله د کلام سیاق پر هغې دلالت ونکړي. دری: [اشارۃ النص]

## اشاعه
د ډله ییزو رسنیو له خوا د یوې موضوع او یا یو اثر د پراخې خپرونې په مفهوم کارول کیږي. دری: [اشاعه]

## اشتباه
اشتباه یا تېروتنه هغه ناسم تصور او خیال دی چې انسان یې د چارو او یا شیانو په اړه لری. په بل عبارت، تېروتنه له حقوقي واقعیتونو څخه ناسم برداشت دی.
دری: [اشتباه]

## اشجار (ونی)
هغه بوټو ته ویل کیږي چې ډډ ولري. دری:[اشجار]

## اصالتاً
هغه اصطلاح ده چې په معموله توګه د یو شخص له خوا د خپل ځان له طرفه د عقدونو، تصرفاتو، د دعوی د اقامې، د اعتراض او یا دفاع وړاندې کولو ته ویل کېږي.
دری: [اصالتاً]

## اصطیاد
د یو شخص ذوالید دی، پر مباح شی باندې.
دری:[اصطیاد]

## اصل
د شخص د قرابت بنسټیزه نسبت دی چی فروع له هغې څخه منشعب دی. دری: [اصل]

## اصلاح
د عادلو او پوهو اشخاصو د اقدام او حسن نیت له لارې د منازعې حل ته ویل کېږي چې په معموله توګه د محکمې د توجیې او یا د خلکو د عرف او تعامل د غوښتنې په اساس له محکمې څخه بهر او یا هم د یوی خوا یا دواړو خواوو په غوښتنه صورت مومي.
دری: [اصلاح]

## اصلاح لیك
هغه سند دی چې د با صلاحیته محکمې د حکم تر صادرېدو مخکې د اختلاف د موضوع د حل لپاره د دعوی د دواړو خواوو ترمنځ تبادله او د محکمې فیصله د هغه په استناد رسماً ابلاغیږي. دری:[اصلاح خط]

## اصلي تابعیت
هغه تابعیت ته وایي چې د شخص د زیږېدلو سره سم پیل او د ژوند تر آخره پورې دوام ومومي.
دری:[تابعیت اصلی]

## اصلي دریځ (موقف) یا (حالت)
هغه حالت چې مامور په بالفعل ډول په هغه ټاکلي بست کې چې د قانون له حکمونو سره سم مقرر شوی دی دنده ترسره کوي. دری: [موقف اصلی]

## اصلي شرکت
هغه شرکت دی چې د څو نورو شرکتونو د نظارت او اداري چارې پر غاړه ولري. دری: [شرکت اصلی]

## اصلي مالك
هغه حقیقي او یا حکمي شخص چې د یو ملك د ملکیت قانوني اسناد ولري. دری: [مالک اصلی]

## اصلي یا بذات سوداګریز معاملات

عبارت له هغو تجارتي معاملاتو څخه دي چې اصلاً او ذاتاً سوداګري وي او د شخص تابع نه وي. نوموړې معاملې که د هر چا له خوا ترسره شي سوداګریزې ګڼل کیږي. دری: [معاملات تجارتی یا بذات]

## اصلی جزاګانې

هغه جزاګانې چې د شریعت او قانون له خوا، د یو جرم لپاره ټاکل شوي دي. د هیواد د جزاء د قانون له مخې اصلی جزاګانې د اعدام، دوامداره حبس، اوږد حبس، منځنی حبس. لنډ حبس او نغدي جزاء څخه عبارت دی.

دری: [مجازات اصلی]

## اصناف

هغه کسبګران دي چې په انفرادي او یا ګډه توګه واحد تولیدي یا خدماتي فعالیتونه ترسره کوي. دری:[اصناف]

## اصولي تفسیر

هغه تفسیر دی چې په هغه کې د قانون مجمل مواد د اصل یا اصلي قاعدې په اعتبار واضح کیږي.

دری:[تفسیر اصولی]

## اصیل

هغه شخص چې په خپل نوم او په خپله ګټه کار ترسره کوي، اصیل ګڼل کیږي. دری: [اصیل]

## اضافه تصرفه ځمکې

د هغو شخصي نیول شویو ځمکو د ساحې یوه برخه ده چې د ملکیت په سند کښې د لیکل شوې ځمکې له اندازې نه زیاته تثبیتیږي. او یا د ځمکې د ملکیت د سند له حدودو څخه د زیاتې ځمکې تر لاسه کولو (تصاحب) ته ویل کیږي. دری:[زمین اضافه تصرف]

## اضافه رخصتي

د ناروغۍ هغه رخصتي ده چې کار کوونکی برسېره د ناروغۍ د رخصتي له مودې څخه د قانون له حکمونو سره سم په متفرق او یا پرله پسې ډول له هغې نه ګټه اخلي. دری:[اضافه رخصتی]

## اضافه کار آمد

هغه اجناس دي چې د استفادې وړ وي او د یوې ټاکلې مودې پورې هغو ته ضرورت نه وي.

دری: [اضافه کارآمد]

## اضافه کاري

هغه کار دی چې کارکوونکی یې د ضرورت له مخې د اداري د ضرورت او تجویز پربنا او خارج له رسمي وخت نه سرته رسوي. دری:[اضافه کاری]

## اضافي مالیه

هغه مالیات دي چې مالیه ورکوونکی پرته د خپل ذمت مالیې، په ځانګړو موادو کې مکلف دی چې اضافي مالیه پر عایداتو د قانون له حکمونو سره سم کړي.

دری:[مالیات اضافی]

## اضطرار

هغه غیر عادي حالت او وضعیت دی چې د هغې له امله ځینې کارونه چې مخکې ئې د شرع او قانون له مخې جواز نه در لوده، پلې کېدلای شي. دری: [اضطرار]

## اضطراري تسلیم

هغه تسلیمي ده چې په هغې کې یوازې مادي حیازت شخص ته لیږدول کیږي او دغه لیږدونه ناقص حیازت هم ګڼل کیږي. دری: [تسلیم اضطراری]

## اطلاع (خبرتیا)

باصلاحیت ارګانونو ته د جرم د واقع کېدلو ورکول دي.

دری: [اطلاع]

## اطلاقي عقد

هغه عقد چې د یوه عمل په سرته رسېدو کې یو سړی د بل سړي لاس پرانستی پرېږدي. دری: [عقد اطلاقی]

## اعادوي عدالت

هغه اقدامات دي چې د هغو اشخاصو د حقوقو د اعادې په منظور چې غصب یا نقض وربانديې شوی وي صورت نیسي. دری:[ عدالت اعادوی]

## اعاده

د شي یا حق بېرته راستنول دي خپل لمړني ځای ته.
دری: [اعاده]

## اعاره

د یو شي د عاریت په ډول ورکول دي. دری:[اعاره]

## اعاله

د شخص تر تکفل لاندې افرادو د نفقې د ورکړې په اړوند د مسوولیت په غاړه اخیستلو څخه عبارت دی.
دری: [اعاله]

## اعتبار

د یو مبلغ هر ډول ورکړه یا د ورکړې ژمنه ده چې د ټکټاني له ورکولو سره ورکول شوی مبلغ د بېرته ورکړې د حق د نورو تضمین شویو یا نا تضمین شویو لګښتونو، د پور د هر ډول تمدید، هر ډول صادر شوی تضمین او د پور د بها لرونکو سندونو د پیرودنې او یا د مبلغ د ورکړې د ژمنې د نورو ډولونو په عوض چې په مستقیمه توګه یا د ټکټاني د تخفیفي پیرودنې د یوې بیې په واسطه ورکول شوی وي. دری:[اعتبار]

## اعتباري تعدد

پر واحد فعل د څو جزائي وصفونو شمول.
دری: [ تعدد اعتباری]

## اعتباري معاملات

هغه معاملات دي چې د بانکونو او سوداګرو ترمنځ اعتبار پرانیستل کېږي چې د پرانیستل شوي اعتبار په بنسټ تاجر کولای شي تجارتي اعمال ترسره کړي.
دری: [معاملات اعتباری]

## اعتداء

د جاني له خوا د جرمي فعل تجاوز او تنفیذ دی.
دری: [اعتداء]

## اعتراض

له هغه حالت څخه عبارت دی چې شخص یې د بل شخص یا نورو اشخاصو د فعالیت یا اجراآتو په اړوند قناعت نلري او اکثراً د قضاء په وړاندې رامنځ ته کیږي.
دری: [اعتراض]

کله نا کله د یوې رسمي مرجع یا د یوې محکمې د حکم په وړاندې هم اعتراض مطرح کېدای شي.

## اعتراف

د یو ذیصلاح حق په وړاندې د واقعې د اظهار او بیان څخه عبارت دی. دری: [اعتراف]

## اعتصاب

له کار څخه د ډېرې کولو یا د قانوني او وظیفوي مکلفیتونو له نه اجرا کولو څخه عبارت دی چې اشخاص د ټاکلو هدفونو د ترسره کولو په غرض، په هغه لاس پورې کوي. دری: [اعتصاب]

## اعتیاد

پر نشه راوړونکو توکو عادت کېدل دي چې شرعاً او قانوناً مجازات لري. دری:[اعتیاد]

## اعتیادي جرمونه

هغه جرمونه چې د فعل د تکرار له مخې منځ ته راځي او نوعیت ئې د قانونی نص په اساس ټاکل کیږي، اعتیادي جرمونه نومیږي. دری: [جرایم اعتیادی]

## اعتیادي مجرم

هغه مجرم چې جرم د عادت له مخې سرته رسوي.
دری: [مجرم اعتیادی]

## اعدام

اعدام د ذیصلاح محکمې د حکم پراساس، په دار باندې د محکوم علیه ځړول دي د مرګ تروخت پورې، چې حکم ئې د جمهور رئیس له خوا تائید شوی وي.
دری:[اعدام]

## اعذار (عذرونه)

له هغو حالاتو څخه عبارت دی چې قانون تصریح کړی وي او د جزاګانو د محوې او تخفیف سبب ګرځي.
دری: [اعذار (معاذیر)]

## اعراض

د ځمکې ویجاړول دي چې د خاوند د نه رسیدنې له امله ځمکه ویجاړه او مباح وګرځي. دری:[اعراض]

## اعسار

په مالي ستونزو او لاس تنګی اطلاق کیږي.
دری: [اعسار]

## اعلام

عبارت دی له نشر او خپرولو څخه چې اشخاص پرې خبر کړي. دری: [اعلام]

## اعلان

د ډله ایزو رسنیو له لارې د موضوع له نشر او خپرولو څخه عبارت دی چې په حقوقي نتایجو پای ته ورسیږي.
دری: [اعلان]

## اعم ولایت

د انفاذ د صلاحیت او استیلا څخه عبارت دی.
دری: [ولایت اعم]

## اعنات

هغه فشار اعمالول دي چې امکان لري د قاضي له خوا پر شاهدانو راوړل شي ترڅو هغوی شهادت په واقعي توګه ادأ کړي. دری: [اعنات]

## اعور

هغه عیب دی چې د عقد پر مهال د ښځې یا نارینه په وجود کې شتوالی ولري او شخص ور څخه خبر نه وي خو که چیرې یې خبرتیا درلودلای، د عقد د فسخې سبب کېده. دری: [اعور]

## اعیاني خور

هغه خور ده چې له نورو وروڼو او خویندو سره له یوه پلار او مور څخه زیږېدلي وي. دری: [خواهر اعیاني]

## اغتصاب

له ښځې سره د هغې د رضایت پرته جنسي یوځای کېدو ته ویل کیږي. دری: [اغتصاب]

## اغفال غفل

هغه بیابان چې پکې د آبادۍ هیڅ ډول علایم تر سترګو نه شي. دری:[اغفال غفل]

## افتراء

بل شخص ته د واقعیت خلاف، د یو جرمي عمل د نسبت ورکولو څخه عبارت ده. دری:[افتراء]

## افزودي (زیاتوالی)

په یوه معامله او یا حقوقي تعهد کې پر مخکنی ټاکل شوې وجهې او یا اندازې د معینې نقدي وجهې او یا یو اندازه جنس زیاتول او افزایش. دری: [ افزودی]

## افغاني اموال

هغه مالونه دی چې د افغانستان په قلمرو (خاوره) کې په بشپړه توګه استحصال یا تولید شوي او د افغانستان د اموالو د منشاء په توګه ګڼل شوي وي.
دری:[اموال افغانی]

## اقاله

د لازم عقد له منځه وړل دي، د تړون (عقد) د دواړو خواوو په موافقې سره، چې دې ته تفاسخ او تقابل هم وایي. دری: [اقاله]

## اقامه

عبارت له هغو اجراآتو څخه دی چې د پرمخ بیولو په منظور د قضاء په وړاندې ترسره کیږي. دری: [اقامه]

## اقتباس

د مطالبو او موضوعګانو د اخیستو له کتابونو او آثارو او د هغه تدوین د یوې رسالې، کتاب یا نورو په بڼه.
دری:[اقتباس]

## اقتصادي جرمونه

هغه جرمونه دي چې د یوې مالي او یا مسلکي ګټې په مقصد ارتکاب مومي. دری:[جرایم اقتصادی]

## اقتضاء

هغه حالت دی چې د یوې موضوع په اړه چې مناسبې معاملې ته اړ وي کارول کیږي. دری: [اقتضاء]

## اقتضاء النص

هغه کلام دی چې لفظ د خپل مفهوم د صحت په مُخه هغه ایجاب کړي. دری: [اقتضاء النص]

## اقرار

د محکمی په وړاندې، په دې اړوند چې بل شخص پرده باندې حق لری، د یوه شخص اخبار دی. دری: [اقرار]

## اقرار په جرم

د محکمې په وړاندې د ځان په نسبت د جرم د انتساب د منلو او د جرم د ارتکاب له قبلولو څخه عبارت دی.
دری:[اقرار به جرم]

## اقراض

د شخص له موافقت څخه عبارت دی چې یو شی او یا یو مبلغ د پور په عنوان واخلي. دری:[اقراض]

## اقطاع

اشخاصوته د ورکړې په منظور د کر کیلې او یا کور جوړولو په موخه د ځمکې برخې برخې کول دي.
دری:[اقطاع]

## اکتسابي تابعیت

هغه امر دی چې متقاضي شخص ته د یو معین دولت، له خوا د قانون له حکمونو سره سم ورکول کیږي.
دری:[تابعیت اکتسابی]

## اکتسابي عوارض

هغه عوارض دي چې په منځته راتلو کې یې د انسان اراده او واک اغیزمن وي. دری:[عوارض اکتسابی]

## اکراه

د غیر قانوني مادي او معنوي فشار اچول دي چې یو شخص د رضا او میل پرته، د جرمي عمل سرته رسولو ته اړباسي. دری: [ اکراه]

## اکسپرت (ماهر مسلکی)

هغه شخص چې د خپلو مسلکي او فني تجربو څخه په کار اخیستنې سره معلومات ورکړې او په خپل ځانګړې فن کې د محکمې په محضر کې توضیحات ورکړي.
دری: [اکسپرت (ماهر مسلکی)]

## اکسپرتیز

هغه عملیه چې د پوهې او مسلکي ځانګړو معلوماتو په مرسته ترسره کیږي. دری: [اکسپرتیز]

## اګریمنت (اعتبار لیك)

هغه رسمي لیك دی چې د یوه هېواد له خوا د سفیرانو او دیپلماتیکو لوړ پوړو چارواکو ته چې د ماموریت ځای هېواد ته لیږدول شوي او د هغه کړنې د ماموریت د ځای په هېواد کې تضمینوي، ورکول کیږي.
دری: [اګریمنت (اعتبار نامه)]

## البسه

هغه شیان چې شخص یې اغوندي. دری: [ البسه]

## التباس

د یوې حقوقي معاملې د سرته رسولو په مهال د یوې موضوع پټول دي. دری: [التباس]

## التصاق

د طبیعي یا غیر طبیعي لاملونو له کبله د دوو څیزونو نښلول او یوځای کېدل دی. دری: [التصاق]

## التوأ

هغه حالت دی چې شخص دین نه ورکوي او وروسته یې اچوي. (دین ته دې مراجعه وشي). دری: [التوأ]

## الحاقی ماده

هغه ماده ده چې د یوه قرارداد پر اصل باندې ورزیاتیږي.
دری: [مادهٔ الحاقی]

## الزام

د عقد پر دواړو خواوو د ټاکلو متقابلو التزاماتو انشا ده.
دری:[ الزام]

## الزامي ناپلوي

د ناپلوي یو ډول دی چې له مخې یې بېلابېل دولتونه د خپلو مصلحتونو پر بنسټ پرته له قید او شرط د یو قرارداد پر بنسټ یوه سیمه یا هېواد ناپلوه اعلام کړي او په هغې باندې ځان ملزم وګڼي. (ناپلوي ته دې مخه شي).
دری: [الزامي ناپلوي]

## الزامي والی

د مجرمانه عملونو د حرمت د قانون د حکم رعایتول او محترم شمېرل او لازمي ګڼل. دری [ الزامی بودن]

## الزامي ورکول

له هغه ورکړې څخه عبارت دی چې دولت ته او یا د دولت لخوا صورت ومومي. دری: [پرداخت های الزامی]

## الصاق کوونکی

هغه شخص دی چې د یوه نا مشروع امر په پیښېدو کې له یوې منبع، او یا اصلي شخص څخه، شخص او یا نورو مواردو ته د منع شوي شي په ارتباط ورکولو کې ئې د اړیکې په توګه کومه ونډه اخیستې وي.
دری:[الصاق کنندهٔ]

## الغا

د يو قانون، حکم او يا هر بل حقوقي سند په ټولو يا د ځينو برخو له باطلېدو، او د هغه د الزامي قوت له تجريد څخه عبارت دی. دری: [الغا]

## القاح

په حيوان او بوټو کې د نسل د زياتوالي او تقويې لپاره د مؤنثو او مذکرو ژنونو يوځای کول دي. دری: [القاح]

## اله ګوله

هغه حالت دی چې اله ګوله اچوونکی له څرګندو وسايلو څخه په ګټې اخيستو سره عامه نظم اخلالوي.
(اله ګوله اچوونکی ته دې مراجعه وشي). دری:[آشوبگری]

## اله ګوله اچوونکی

هغه شخص دی چې خلك اله ګولې ته وربولي. (اله ګوله ته دې مراجعه وشي). دری:[آشوبگری]

## اماره

هغه اوضاع او احوال دی چې د قانون په حکم او يا د قاضي په نظر پر يوه امر دليل پېژندل شوی وي.
دری: [اماره]

## اماطه

له منځه تللو او ازالې ته وايې. دری:[اماطه]

## امانت

هغه عقد دی چې امين ته د ساتنې لپاره ورکول کېږي.
دری:[امانت]

## امر

بل ته د قايل قول دی د طلب په صيغې او د استعلاء په طريقه. دری: [امر]

## امنيتي تدبيرونه

هغه تجاويز دي چې محکمه يې هغه وخت حکم کوي، چې ثابته شي چې محکوم عليه شخص داسې عمل کړی يائې کوي، چې د قانون په حکم جرم شمېرل کيږي او د مجرم حالت، عامه امنيت له خطر سره مخامخ کوي. دری:[تدابير امنيتی]

## امنيتي جرم

هغه جرم چې د ارتکاب موضوع، انګيزه يا نتيجه يې، د يو هېواد د سياسي، ټولنيز او اقتصادي نظام ړنګول يا سستول وي. دری: [ جرم امنيتی]

## امومت

د مور او اولادونو ترمنځ اړيکه ده. دری: [امومت]

## اميري ځمکې

هغه ځمکې چې د دولت ملك وي. دری:[ اراضی اميری]

## امين

هغه شخص چې د امانت مال ساتنه کوي. دری: [امين]

## انتاج

هغه اقتصادي فعاليتونه دي چې پايله يې د صنعتي او يا زراعتي محصولاتو توليدوي. دری: [انتاج]

## انتحار

ځان وژنې ته ويل کيږي په بل عبارت هغه څوك چې د خپل نفس په وژلو کوښښ کوي او يا هم خپل روح په خپله په يوه مادي فعل ازها قوي. دری: [انتحار]

## انتخابات (ټاکنې)

د وګړي يا وګړو د رأی ورکولو او انتخابولو د ځانګړو چارو يا جوړښتونو لپاره ټاکنې ته ويل کيږي.
دری: [انتخابات]

## انتر پول

د بین المللي پولیسو له سازمان څخه عبارت دی.
دری:[انترپول]

## انتضامي تخلف

د شغل، حرفې او یا اړوند ټولګي د مقرراتو او نظاماتو سرغړونه او تخطي ده. دری: [تخلف انتضامی]

## انتفاع

عبارت له هغې ګټې څخه ده چې په عین، دین او مالي حقوقو کې رامنځ ته کېږي. دری: [انتفاع]

## انتقالي برأت

هغه برأت دی چې د هغه له مخې د هغه ظهر لیکونکي د سند وجه دریېم ګړې شخص ته انتقالیږي. (برات ته دې مراجعه وشي). دری: [برات انتقالی]

## انتقالي عدالت

هغه واژه چې په غوښتنې سره يې د جنګي جرمونو تورن د يو قانوني دولت د منځ ته راتللو څخه مخکې د جزايي عدالت میز ته راښکل کېږي. دری: [عدالت انتقالی]

## انثی خنثی

هغه شخص دی چې د اناثو علامې پرې غالبې وي.
دری:[خنثی انثی]

## انحصاري علامه

هغه علامه یا نښه ده چې د شخص یا اشخاصو (حقیقي یا حکمي) د تجارتي علامې په عنوان په اړونده محکمه کې ثبت شوي وي. دری: [علامه انحصاری]

## انساني کرامت

د هغه احترام او ارزښت اندازه چې د جرم مرتکب ترې برخمن دی. دری:[کرامت انسانی]

## انشائي اراده

هغه تشکل موندلې ارادې دي چې د عقد دواړه خواوې او یا د هغوی یوه خوا له هغې څخه په ایقاعاتو او التزاماتو، په واحده اراده له ایجاب او قبول سره منځ ته راغلي وي. (ارادې ته دې مراجعه وشي).
دری: [ارادهٔ انشائی]

## انصراف

عبارت له هغه حالت څخه دی چې ذیحق شخص په ډاګه له خپلې ادعا او یا هغه تاوان چې هغه ته رسېدلی، د دعوی د اقامه کېدو له مخه منصرف شي، خو پدې شرط چې له دعوی څخه وړاندې وي. دری: [انصراف]

## انعام

د خپلې خوښې ورکړې ته ویل کېږي چې د یوه خدمت په بدل کې صورت مومي. دری: [انعام]

## انعقاد

د هر یوه لوري (ایجاب او قبول) د يو بل سره له تړاو او اړیکې څخه عبارت دی چې په مشروع توګه سرته رسیږي. دری:[انعقاد]

## انفساخ

هغه حالت دی چې د اغیزې له امله يې يو حقوقي عمل د یوې یا دواړو خواوو له ارادې پرته له منځه ځي.
دری: [انفساخ]

## انکار

د یوه امر د نفی کولو، نه منلو او د هغه له تکذیب څخه عبارت دی. دری:[انکار]

## انګېزه

هغه رواني حالت دی چې مرتکب د جرم ارتکاب ته هڅوي. دری: [انگیزه]

## انوثت

د مؤنث والی صفت دی. دری: [انوثت]

## انهدام

د یوې ودانۍ ړنګولو ته ویل کیږي. دری: [انهدام]

## اوږد مهاله اجاره

هغه اجاره ده چې د هغې حد اکثر موده د انسان له عادي عمر څخه زیاته نه وي. دری: [اجارهٔ طولانی]

## اوږد مهالې ژمنې

د پیسو ورکولو ژمنه چې د مالي کال له سرته رسېدلو څخه وروسته د دولتي ادارو د قرار داد په استناد کې د قانون له حکمونو سره سم صورت نیسي.

دری: [تعهدات طویل المدت]

## اوقاف مشتات

هغه وقف چې پرته د اوقاف د ادارې له مداخلې څخه د متولي له خوا اداره کیږي. دری: [اوقاف مشتات]

## اهانت

له هغې وینا یا تحقیر آمیزه چلند څخه عبارت دی چې یو شخص یې د بل شخص په نسبت په کار وړي.

دری:[اهانت]

## اهل خبره

هغه کس چې په ټاکلو موضوعاتو کې د لازمه علم او تجربې څخه برخمن وي او د هغه نظر د حکم د سبب په توګه ګڼل کیږي یا هغه کسان چې په یوه ځانګړي موضوع کې د مسلك او تخصص له لیارې د پوره معلوماتو خاوند وي. دری: [اهل خبرهٔ]

## اهل کتاب

هغه چا ته ویل کیږي چې له آسماني کتابونو څخه د یو متابعت وکړي، د ښځینه اهل کتابو واده مسلمان نارینه سره جواز لري او د هغه برعکس جایز نه دی.

دری: [اهل کتاب]

## اهمال

د یو شي په حفاظت او اداره کولو کې هغه بې پروایي او نه پاملرنه ده چې صدمه او تاوان رامینځته کړي.

دری: [اهمال]

## اهلیت

اهلیت هغه ظرفیت دی چې شخص یې د حق او تکلیف د درلودلو او یا کارولو لپاره لري. دری:[اهلیت]

## ایجاب

ایجاب د یوه شخص لخوا بل شخص ته د قرارداد د تړلو لپاره وړاندیز دی. دری:[ایجاب]

## ایجابي ارتفاق

هغه ارتفاق دی چې د غیر منقول ملك مالك ته اجازه ورکوي چې د خپلې ګټې لپاره په خپل مجاور ملك کې کوم کار ترسره کړي. (ارتفاق ته دې مراجعه وشي).

دری: [ارتفاق ایجابی]

## ایجابي تنازع

له هغې تنازع څخه عبارت دی چې دوه محکمې په یوه معینه دعوی کې ځان د صلاحیت خاوندان بولې.

(صلاحیت تنازع ته دی مراجعه وشي).

دری: [تنازع ایجابی]

## ایجابي رشوت

که چېرې د رشـوت ورانـدیز د راشـي لـه خـوا صـورت ومـومي رشـوت ایجـابي ګڼـل کېـږي. (رشـوت تـه دې مراجعه وشي). درئ:[ رشوت ایجابی]

## ایجابي سلوك

هغه چلنـد چې د فعـل د سـرته رسـولو لـه املـه صـورت مومي. درئ: [سلوک ایجابی]

## ایجار

د یوه شي په اجاره ورکول دی. (اجارې تـه دې مراجعـه وشي) . درئ: [ایجار]

## ایجاز

په معموله توګه مختصر ګرځول، او یا په مختصـره توګـه د یوې موضوع بیانول او یا هم په یو قرارداد کې د هغه د شرطونو په لنډه توګه د ذکر کولو پـه معنـی اسـتعمالیږي. درئ: [ایجاز]

## ایداع

له هغه مال څخه عبارت دی چې خاونـد یـې د سـاتلو پـه منظور بل چاته سپاري. درئ:[ایداع]

## ایلا

هغه سوګند دی چې نارینـه یـې پـه توکیـد سـره د خپلـې ښځې د څورولو په قصد وایي چې لږ تر لږه به د څلـورو میاشـتو لپـاره لـه هغـې سـره جنسـي مقاربـت نـه کـوي. درئ:[ایلا]

## أبجدي حرفونه

د الفباء د حرفونو مرتب شوی ترتیب دی، چې د ابجـد د مشهور روش سـره سـم د شیانو او اشخاصـو د نومونـو د ثبت په اړه په قانوني توګه مراعات کیږي. درئ:[ حروف أبجدی]

## أخاذي

د زورواکو اشخاصو له خوا په غیر مشروع او لـه موجـب پرته د فشـار پـه واردولـو سـره لـه حقیقـي او یـا حکمـي اشخاصو څخه پیسې ترلاسه کول. درئ: [اخاذی]

## أخوت

د وروڼـو پـه میـنځ کـې د وروروالـي قرابـت دی. درئ: [أخوت]

## إخلال

د مستحق شخص په خپلو حقوقو باندې پـه قـانوني توګـه په لاس رسیو کې د مشکل رامینځته کول. درئ:[ اخلال]

## إستیذان

د یو شخص یا ذیصلاح محکمې څخه د یو عقد، تصرف او د نورو حقوقی چارو د پلې کولـو لپـاره، د اجـازې لـه اخیستلو څخه عبارت دی. درئ: [إستیذان]

## إقتران

هغه اصطلاح ده چې د دواړو څیزونو لپاره چې مخکې له یو بل څخه جلاؤ د هغـه د یوځـای او نـږدې کېـدلو پـه معنـی کـې د عقـدونو پـه موضـوعاتو کـې اسـتعمالیږي. درئ: [إقتران]

## إلحاق

د دوو مادي شیانو نښلولو ته او هم لـه یـوه نړیوالـ تـړون سـره د یـوه دولـت یوځـای کېـدو تـه ویـل کېـږي. درئ: [الحاق]

## إناطه

د یو قضایي امر د بل سره، د ارتبـاط درلودلـو پـه مفهـوم کارول کیږي. درئ: [إناطه]

## إنشاءات

هغو تأسیساتو ته وائي چې مخکې ئې شتون نه لرلو او نوي ایجاد شوي وي. دری: [إنشاءات]

## إنقراض

په طبیعي او یا غیر طبیعي توګه د یو امر پای ته رسېدل.
دری: [إنقراض]

## إنقطاع

په ګډون د قوم او نسب د سلسلې، د یو امر چې د هغه دوام شونی وي، پای ته رسېدل او یا د هغې پای ته رسول. دری: [إنقطاع]

## إیقاع

د حقوقي اعمالو او حوادثو په بیانولو کې د یو امر د واقع کولو او یا واقع کېدلو په معنی کارول کېږي.
دری: [ایقاع]